لیکوال: محمد ابراهیم شینواري نیټه ۰۹-۱۱-۲۰۱۰

# آیا افغان مشران ملت ته هیله ورکولای شي؟

هیله او امید د انساني ژوند تر ټولو ستر محرک دی. پیغمبران چې د بشریت تر ټولو ستر لارښوونکي وو؛ هم هیله ورکوونکي او وېروونکي (بشیر او نذیر) نومول شوي دي او ځکه د جنت هیله او له دوزخ وېره تر ټولو لوی هڅوونکي فکټورونه دي، چې یو انسان ورته خپل ژوند وقف کړي. د انساني ژوند په باب نهیلي فیلسوفان هم په دې ټینګار کوي، چې باید بشریت ته ډېرې ښې هیلې او امیدونه ورکړل شي.

د پخواني یونان یوه کیسه ډېره مشهوره ده، وایي چې "پاندوره" یوه شهزادګۍ وه. یو دېو پرې مَین شو او ویې ټښتوله. پاندوره به ټول وخت غمګینه، په ژړا او واوېلا وه او یوه شېبه ارامه نه وه. دېو چې پوه شو، پاندوره له ده سره ګوزاره او ګډ ژوند نکوي؛ نو پرې یې ښوده او یو بکس یې په تحفه کې ورکړ. دېو پر پاندورې باندې دا شرط کېښود، چې بکس به هېڅکله نه خلاصوي. انساني فطرت دی، چې له کوم شي منع شي، همهاغه کار کوي. پاندورې بکس خلاص کړ؛ خو څه ګوري؟ ماران، لړمان، غونډلان او نور وحشي حشرات. پاندوره په چیغو شوه او نه پوهېده، چې څنګه ترې وتښتي؛ خو چې ټول ماران او لړمان راووتل؛ نو د بکس په تل کې یو روښانه او ځلېدونکی غمی و، هغه غمی هیله وه.

د افغانستان مظلومو او پتمنو خلکو ته دا دېرش کاله د ښکلیو نومونو او عالي شعارونو په بکسونو کې همدغسې ماران او لړمان او آفتونه او زیانونه ورکول کېږي؛ خو متاسفانه هغه څه، چې پکې نشته؛ هغه هیله او امید دی.

په ۱۹۹۲ز کال ما په پېښور کې د افغان مهاجرینو او کوزو پښتنو مقایسه کوله. افغان مهاجرین به له ټولو ستونځو سره- سره خوښ، خوشحاله او روښانه ښکارېدل؛ خو زموږ کوز ورونه به وارخطا، په بیره او الوتو بنو کې ښکارېدل؛ خو وروسته نهیلي په دې خوا کې هم عامه شوه.

په ۲۰۰۲ز کې بیا خلکو ته امید او هیله بیا پیدا شوې وه، خپل اولادونه یې په شوق په ښوونځیو کې شاملول او د ژوند، سولې او نېکمرغۍ لپاره امیدواره وو؛ خو ورو- ورو هیلې په نهیلیو بدلې شوې او اوس، چې له هر تعلیم یافته افغان سره کېني؛ همدا یوه خبره به ترې اورې: "دا وطن نه جوړېږي، این وطن جور نمی شود". دا فکر کیږي، چې ددې نهیلۍ په زېږولو کې کومه ژوره توطیه رول لري. هیله په افرادو، ملتونو او ټولنو کې پر ځان باور زېږوي او نهیلي بې باوري، وېره او ماته.

که څه هم د ABC, BBC او یو بل جرمني چېنل وروستۍ سروې ښوده، چې په افغانانو کې د هیلې کچه لوړه شوې او تر ٪۷۰ خلک هیله لري، چې هېواد یې ښه لوري ته روان دی، له بلې خوا د ایشیا فاونډېشن نوې سروې هم ښایي، چې د افغان ولس د هیله مندۍ کچه لوړه شوې ده؛ خو لومړنۍ سروې د ۲۷ میلیونه افغانانو له منځه یوازې له (۱۵۰۰) کسانو او دویمه د ۶۸۰۰ کسانو د ځوابونو په نتیجه کې تر سره شوې ده. دغه سروې ګاني موږ نه ردوو؛ خو د ټولنې واقعیت ډېر بدل دی او دومره کوچنۍ بېلګې (سمپل سایزونه) د یوه ملت په کچه دومره لویې مسئلې ته ځواب نشي ویلای .

د ولسمشر کرزي ځینې نژدې ملګري هم وایي چې دوی دې مسلې ته ډېر تشویش لري، او وایي چې ملت ته هیله نه شي زېږولای او دې مسلې پر حکومت د خلکو د بې باورۍ په زیاتوالي کې ډېره برخه لرلې ده.

په هر حال، موږ د متمدنو انسانانو په توګه مسوولیت لرو، چې خپل ملت ته هیله وزېږوو، پر بري یې ډاډمن کړو او د روښانه راتلونکي واقعبینانه طرحې یې مخې ته کیږدو. تر ټولو ډېره دا زموږ د مشرانو دنده ده.
هیله تشه خوشبیني او خوش باوري نه ده. هیله داده، چې یو فرد، یوې ټولنې او یوه ملت ته دا وښیي، چې له ټولو ستونځو سره- سره، چې په مخ کې یې پرتې دي او ټولې ستونځې او چېلنجونه، چې را روان دي، بریالي کېږي او د نېکمرغۍ او هوساینې لپاره یې تکلونه عملي کېږي.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ګاندي د هند مړ ژواندي ملت ته داسې هیله ورکړه، چې د عدم تشدد او ملکي نافرمانۍ په زور یې انګریزان د هند له نیمې وچې واېستل.

بارک اوباما د امریکا ملت ته د اقتصادي بحران په وخت کې د بدلون او پر هیلې د باور روحیه ورکړه او بېرته یې د اقتصادي بښېرازتیا او دوامداره ثبات پر مفکوره ډاډمن کړل. ده خپل کمپاین د (Audacity of Hope) د کتاب له لیکلو پیل کړ.

عقیده، امید او هیله د ملت جوړوني، ثبات، پر بري او نېکمرغۍ د باور او فکري سکون لپاره ضرورت دی . پر دولت د خلکو باور زیاتوي، فعالیت او تحرک زېږوي او کار او زیار ته ولس هڅوي.

افغانان باید بري، سولې، پرمختګ، عدالت او ملت جوړوني ته هیله من کړای شي او ددې هیلې زېږول په لومړي سر کې د دولت او تر هغه ورسته د روڼ اندو، لیکوالو او پوهانو دنده ده.

پښتو متل دی: دنیا په امید خوړل کېږي. امید باور زېږوي او باور وړتیاوې پیاوړې کوي.

راځئ هیله من و اوسو او د پرون او نن په نسبت ډېر د سبا په باب امیدوارونکی فکر وکړو!!!

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ